# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد     بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم     از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com     afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



د اردشیر زارعی قنواتی لیکنه

داحمدشاه وردگ ژباړه


## افغانستان ته بدتری ورځې په مخکې دی

په افغانستان کی دراتلونکو بدو ورځو په هکله داوباما ټینګار داوسنی وضعی عینی اومنطقی تصویر دی، کوم چې په دننه اوبهر کی دبیلابیلو «نامتجانسو» عواملو په وجه چې یو هیله مند مشترک تل (مخرج) نلری ښکاره کوی، چې دغه هیواد ورته سترګی په لاره دی.....

ننی افغانستان تردیره یوی خړی اوخو اړخیزی ځیری ته ورته دی چې کتل یې سترګی ځوروی اوکه له هری ګوښی ورته وکتل شی نو ځانګړی اوبیله منظره وړاندی کوی.

کورنی جګړی اوددی هیواد دسیاسی- ټولنیزو جوړښتونو نړیدو له خپلو ټولو ښندواو لمنو سره، دوضعی دبنه والی ټول ځواک اوپوتانسیال له منځه وړی اوله بلی خوا په دی کړکیچ کی د متناقضو عواملو(یودبل ورانولو) ونډه او په سیمه ایزه اوپه ټولیزه توګه ددی هیواد دملی جوړښت سره په تضاد کی دی.

هغه څه چې دمګړی دافغانستان دثبات(ثبات) لپاره ترنورو مخ ته پرتو ستونزو ډیر مهم دی، دشمالی اتلانتیک دتړون (ناتو) دځواکونو سره ددی هیواد اړیکی دی. په افغانستان کی دثبات بحث اودناټو ځواکونو ونډه په دی هیواد کی، د ددی تړون دهیوادونوخپلمنځی اړیکی، او دافغانستان له کړکیچ څخه دناتودځواکونو دایستلو لپاره دناتو دغړو هیوادونو دعامه افکارو لیوالتیا، او ترټولو مهمه هغه بحران ته چې اروپائی اتحادیه ورسره لاس اوګریوان ده، دژوری کتنی څخه پرته لاره وره کوونکی( ګمراه کننده) دی.

همدارنګه د فرانسی دجمهوری ریاست په ټاکنو کی د« فرانسوا اولاند» بریالیتوب او په کمپ دیوید کی د«جی ۸-» په رسمی ناسته او دشیکاګو په سرمشریزه کی د ټاکل شوی وخت نه مخکی د فرانسوی پوځونو په ایستلو دده ټینګار ددی تړون(ناتو) په ماتیدنی او کورنیو اختلافونو اوپه افغانستان دهغی داغیزی ښکارندویی کوی.

دفرانسی دغه ګام په داسی حال کی چې اروپائی اتحادیه له ژور مالی بحران سره لاس اوګریوان ده ، وروسته یا ژر ددی اتحادئی دنورو غړو لکه ایتالیی اوهسپانی اونورو لپاره هم یوازینی ټاکنه ده. له کومه ځایه چې ناتو د افغانستان اوعراق له جګړو وروسته چیرته چې بریالی هم نه ګڼل کیږی، تردیره دیوه « ورانوونکی » رول لوبلوی، دهغی ادعا سره چې ناتو دیوه « رغوونکی» ځواک په توګه راپیژنی او دهغو مالی اوانسانی لګښتونو سره چې ناتو یې کوی، ددی هیواد دغړو دتوان اوټولیزو غوښتنو سره په ټکرکی دی.

افغانستان دناتو لپاره یوه ناکامیه پروژه ده اودناتو هیوادونو دمشرانو لپاره یوازینی هیله د افغانستان له کړکیچه ددوی ابرومندانه؟؟؟ وتنه اودغړو هیوادونو دکورنی یووالی ساتنه ده ! کومی ته چې اوس رسیدنه هم ډیره ستونزمنه برینی.

دافغانستان کړکیچ یوه څو اړخیزه معادله ده چیرته چې دهیواد سیاسی – ټولنیزدړی وری جوړښت او په مخدره توکو ولاړ اقتصاد، دمرکزی دولت سره دطالب جنګیالیو وسله واله جګړه، په واکمن اړخ کی فساد او بیلتونپالنه ، دبهرنیو ځواکونو سره دعمومی غوښتونو نه سمون، دافغانستان دملی ګټو سره دګاونډیو هیوادونودملی ګټو ټکر، او په ناتوکی بن بست په هغی مخامخ اغیزه شیندی.

دا پارادوکسیکاله (متضاده ) معادله دافغانستان په عینی برخه کی د کمی او کیفی تناقضاتو په وجه په لویه سطحه کی دهړدول حل او سولی دماتی سبب کیږی.

دشیکاګو په سر مشریزه کی دجمهور رییس بارک اوباما ټینګار په دی ټکی باندی چی « سختی ورځی » په افغانستان کی په مخکی دی، دافغان کړکیچونو اوستونزو دژوروالی ښکارندوئی کوی.
دفرانسوی ځواکونو دژر وتلو اوښایی نورهیوادونه هم ددوی په پله ولاړشی، لږ ترلږه دجګړی په ډګر کی اوسنی انډول له منځه وړی اواوسنی کړکیچ به ځو واری ډیر کړی.
په بهرنیو مرستو دکابل دواکمنی تړاو، او دیورو په حوزه کی مالی بحران به ډیر ژرخپلی منفی اغیزی په دی هیواد کی وشیندی کومی به چی دننیو وژمنو (مرستو) ترسره کول ناشونی کړی.
ترکومه ځایه چی په افغانستان کی اساسی قانون او نورو مدنی جوړښتونو حداقل ټینګښت ندی موندلی، نو په کورنیو اوبهرنیو برخو کی د انډول دپارامترونو دبدلون په صورت کی به په دی هیواد کی یوه سیاسی-ټولینزه تشه(خلا) چی هیڅ مترقی بدیل به هم ورته شتون ونلری رامنځ ته شی او اوسنی بحران به نور هم ژور کړی.
په شیکاګو کی دناټو سر مشریزی چه په ظاهره یی دافغانستان سره دمرستو او انډیوالی پیغامونه درلودل؟ ولی دجګړی د ډګر پیښی اوپه افغانستان کی دناټو په ماموریت کی درځ، دحل په لورهرډول مثبتی کتنی پیکه کوی.
په افغانستان کی په راتلونکو سختو ورځو باندی د بارک اوباما ټینګار، داوسنی وضعی عینی اومنطقی تصویر وړاندی کوی، چیرته چی په کورنیو اوبهرنیو برخو کی دبیلا بیلو «نامتجانسه» عواملو په وجه یوه هیله مند ګډ بنسټ نه راپه ګوتو کوی باید په دی هیواد کی سختو ورځو ته سترګی په لارو واوسو.

(پای)